# د بلوچستان مړے

وسعت الله خان

د بلوچستان په حقله د عالمي بېنک په تازه رپورټ کښې وئيلے شوي دي چې په تېرو درې دېرش کالو کښې د پنجاب په معاشي حجم کښې ځلور چنده، د سندهـ او پښتونخوا په اقتصادي حجم کښې درې اعشاريه شپږ چنده او د بلوچستان په اقتصادي حجم کښې صرف دوه اعشاريه اووۀ چنده زياتوالے راغلے دے. ځلوښت کاله وړاندې هم بلوچستان د وفاق د ټولو نه غريبه صوبه وه او نن هم دغه حال دے. بلکې د ملک د معيشت د ودې او پرمختګ په تناظر کښې کۀ وکتے شي نو بلوچستان د پرون په مقابله کښې نن ډېر زيات غريب دے. د سماجي ترقۍ په لسو معيارونو چې پکښې تعليم، صحت او صفائي او د صفا اوبو اسانۍ شاملې دي، په دې ټولو کښې بلوچستان د وفاق په اکائيانو کښې د ټولو نه په لاندې سطح دے.



د رپورټ مطابق پاکستان کښې د اوبو اووۀ اويا (۷۷) فيصده زرعي او انساني ضروريات د اباسين او د دې سره په تړليو سيندونو روان د اوبۀ خور د نظام نه پوره کېږي خو د بلوچستان صرف پنځۀ فيصده زمکه د اباسين د اوبۀ خور د نظام سره تړلې ده، نوره پنځۀ نوي فيصده زمکه باراني ده يا شاړه ده.

د پاکستان د نيمې نه زيات معدني دولت بلوچستان کښې دے خو د معدنياتو نه ترلاسه کېدونکي قومي پېداوار کښې د بلوچستان برخه صرف د شل فيصده خواوشا ده. کال نولس سوه ځلور نوي او پنځۀ نوي کښې د پاکستان شپږ پنځوس فيصده د ګېس ضرورتونه بلوچستان پوره کول، لس کاله پس د ګېس په قومي



پېداوار کښې د بلوچستان برخه صرف پنځويشت فيصده پاتې شوه او د ګېس موجوده ذخيرې به هم راتلونکو پنځلسو کالو کښې خالي شي.



کۀ وکتے شي نو د عالمي بېنک په دې رپورټ کښې څۀ هم داسې نوې نشته چې سړے پرې حېران شي خو د يوې عالمي ادارې د داسې قسم رپورټ نه دا ضرور ظاهرېږي چې د بلوچستان د پسماندګۍ مسئله اوس يو داسې پړسېدلے مړے دے چې هر څوک ئې صفا صفا ليدے شي. مونږ دا مړے د ((هندوستان لاس وهنې))، ((يو موټے شرپسند))، ((استحصالي سرداران)) يا د ((بلوچيانو اکثريت محب وطن دي))، په رنګ سرکاري اصطلاحات او خځله د څۀ وخت د پاره پټولے شو خو د دې نه راختونکې بدبوئي به څنګه پټوو.

د سياستدانانو خو خپلې مجبورۍ او مصلحتونه دي خو مېډيا ته د دستي بمونو د حملو، د ابادۍ د ټارګټ کلنګ، د ګېس پائپ لائن او رېل د پټلۍ د تباه کولو نه پس د غائبېدونکو بلوچيانو د قيصو او خبرونو شاته مظلوم او پسمانده بلوچستان ولې په نظر نۀ راځي. څۀ رنګه چې مېډيا قومي ترانې غږوي او عوام د طالبانو په خلاف د رابېدارولو او متحد کولو کرېډټ اخلي دغسې د بلوچستان د مسئلې د هوارولو د پاره د قوم په متحد کولو کښې دلچسپي ولې نۀ اخلي. دوي زيات نه زيات دا وکړي چې کله کله څوک بلوچ سياستدان يا قوم پرست په يو ټي وي چېنل په مباحثه کښې راوغواړي او د هغۀ مرثيه واوري او بيا د اوهو، دا خو ډېر زياتے دے، داسې نۀ دي پکار. بلوچيان هم زمونږ ورونه دي. په رنګ همدردانه 'اوازونه وشي او چې مباحثه ختمه شي نو ژوند د اول په شان په خپل ډګر روان شي.



په اورېدو کښې راغلي دي چې حکومت او پارلېمنټ د بلوچستان د پاره څۀ پېکج راوړي، څوک خو دې دا معلومه کړي چې دا پېکج په کومه رېږه کښې راروان دے چې تر اوسه راونۀ رسېدو. هغه وائي کنه:

تش په خبرو به مې جوړ د زړۀ زخمونه نۀ شي

(د بي بي سي ډاټ کام په مننه)